# لَا تَعَلَّمُوا الْعِلْمَ لِتُبَاهُوا بِهِ الْعُلَمَاءَ، وَلَا لِتُمَارُوا بِهِ السُّفَهَاءَ

له جابر رضي الله عنهما څخه روايت دی چې نبي صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: «لَا تَعَلَّمُوا الْعِلْمَ لِتُبَاهُوا بِهِ الْعُلَمَاءَ، وَلَا لِتُمَارُوا بِهِ السُّفَهَاءَ، وَلَا تَخَيَّرُوا بِهِ الْمَجَالِسَ، فَمَنْ فَعَلَ ذَلِكَ، فَالنَّارُ النَّارُ». «علم د دې لپاره مه زده کوئ چې د علماوو په وړاندې پرې فخر وکړئ او نه د دې لپاره چې ناپوهانو ته پرې ځان وښايئ او نه د دې لپاره چې په مجالسو کې پرې د ځان لپاره ځای ناستی غوره کړئ، نو که چا داسې وکړل، نو - د هغه لپاره - اور دی اور».

[صحيح] [ابن ماجه روايت کړی دی]

رسول الله صلی الله عليه وسلم پدې موخه د علم له زده کړې څخه خبرداری ورکړی، چې د علماوو په وړاندې پرې فخر وکړي او ځان پرې وښايي، او دا ورته وښايې چې زه هم ستاسو په څېر عالم يم، او يا د دې لپاره چې ساده او کم عقله خلک پرې مخاطب وګرځوي، او يا زده کړه د دې لپاره وکړي چې په مجلس کې پرې مشري تر لاسه کړي او نورو ته پرې لومړيتوب ورکړل شي. نو چاچې داسې وکړل، هغه د ځان ښودنې (ريا) او د الله لپاره په زده کړه کې د اخلاص د نشتوالي له امله د اور مستحق دی.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/65047